## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**7 سنبله_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** — **صفحه**


**د ودانیزو چارو د طرح او ډیزاین رییس د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل---------------------------1**

**تحصیلات عالی ریاست عمومی نظارت و تعقیب احکام و فرامین دیدار کرد ----------------------------------------1**

**د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال ننګرهار ته لاړ ----------------------------------------------------------2**

**معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از کمپ ترمینال پایتخت، شهر کابل بازدید نمود ---------------------------------3**

**په مهاجرینو وزارت کې د چین هېواد د مرستو د دویمې جوپې بیا کتنې په اړه ناسته وشوه. -------------------------4**

**نشست مشترک وزارت امور مهاجرین با نهاد های همکار بین‌المللی برگزار شد -----------------------------------5**

**وزارت مهاجران پیشنهاد برگزاری نشست سه‌جانبه را به اسلام‌آباد داد --------------------------------------------7**

**برېتانیا: سازمانونه له حکومت څخه غواړي هوټلونو کې د کډوالو د امنیت د تامین لپاره بېړني تدابیر ونیسي ---------8**

**هنګري د ناقانونه کډوالو په اړه د اروپایي ټولنې له غوښتنو سره مخالف کړی -----------------------------------10**

# متن کامل اخبار

## د ودانیزو چارو د طرح او ډیزاین رییس د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د چارو اداري لوی ریاست، د ودانیزو چارو د طرح او ډیزاین رییس مولوي محمد ابراهیم وهابزاده او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره د هغه په دفتر کې ولیدل

په دغه ناسته کې د مهاجرینو چارو وزارت لپاره د نوې ودانۍ په جوړولو، اړتیاو او لګښتونو خبرې وشوې، او د یاد ریاست له لورې د ودانۍ لپاره ډیزاین شوې نقشه د مهاجرینو چارو وزیر ته وړاندې شوه

ښاغلي حقاني یاده نقشه خوښه او د ځینو ملحوظاتو په اړه یې ورته لازمي سپارښتنې وکړې

## تحصیلات عالی ریاست عمومی نظارت و تعقیب احکام و فرامین دیدار کرد

ویب سایت وزارت



**الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با شیخ نور الله نوری، رئیس نظارت بر امور بخش تعلیم و تربیه و تحصیلات عالی ریاست عمومی نظارت و تعقیب احکام و فرامین و هیات همراه وی در دفتر کارش دیدارنمود.**

**آقای نوری اهداف آن اداره را بیان کرده و خواهان ارائه رهنمودها، هدایات و مشوره دهی در اجرای امور شد.**

**محترم حقانی ایجاد نظام اسلامی را ثمره چهار دهه مبارزات خستگی نا پذیر دانسته گفت: تطبیق احکام اسلامی به صورت بهتر هدف ما است.**

**وی بر اطاعت و هماهنگی های بیشتر تاکید کرده افزود: فرامین و احکام به صورت عالی تطبیق گردد و با کارمندان برخورد نیک صورت گیرد.**

**وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان از همکاری خویش با وی اطمینان داد.**

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال ننګرهار ته لاړ

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې عالي کميسيون د لنډمهاله استوګنې د کمېټې له غړو سره نن د وړې شېږمه ننګرهار ته لاړ.**
**دغه ولايت ته د مسلکي مرستيال د دې سفر موخه له پاکستان څخه د جبري راستنو شويو د لنډمهالې مېشتېدنې له عمري او لالپورې مېشتغالو ليدنه وه.**
**ښاغلي راشد د دې مېشتغالو له مسولانو سره په ليدنه کې د راستنېدونکو لپاره د مرستو او خدمتونو د اسانۍ په برخه کې پر روڼتيا ټينګار وکړ.**

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از کمپ ترمینال پایتخت، شهر کابل بازدید نمود

ویب سایت وزارت



مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به تاریخ 5 سنبله از کمپ مهاجرین ترمینال پایتخت، در شهرکابل بازدید بعمل آورد.

در این بازدید که مولوی عبدالرحمن حبیب زی، رییس مهاجرین ولایت کابل و مولوی نصرت الله طلحه عضو کمیسیون اسکان موقت نیز حضور داشتند هدف آن استماع مشکلات برگشت کننده گان و نظارت از تکمیلی دیوار احاطوی کمپ متذکره بود.

آقای راشد مشکلات برگشت کننده گان را از نزدیک استماع و در حل آن وعده سپرد.

وی همچنین از مرکز صحی سیار که با حمایت ریاست صحت عامه ولایت کابل برای برگشت کننده گان خدمات صحی را عرضه میدارد نیز دیدن نموده کارکرد آنان را مورد بررسی قرار داد.

گفتنی است که دیوار کمپ متذکره به طول 408 متر جهت تامین بهتر امنیت برگشت کننده گان از جانب کمیته اسکان موقت کمیسیون عالی حل مشکلات مهاجرین در همکاری و هماهنگی ریاست مهاجرین ولایت کابل اعمار میگردد.

## په مهاجرینو وزارت کي د چین هېواد د مرستو د دویمي جوپي بیا کتني په اړه ناسته وشوه .

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان او پالیسی رييس مولوي محمود الحق احدي په مشرۍ د چين هېواد د مرستو د دويمې جوپې پلان جوړونې او بيا کتنې په اړه ناسته ترسره شوه.**

**په دې ناسته کې د چين سفارت د اقتصادي او سوداګرۍ سلاکار ماچنګوانګ او د ياد سفارت د اقتصادي او سوداګريزي برخې دريم سکرتر، د اتشه وو رييس، د مهاجرينو چارو همغږۍ کوونکي، مالي او اداري او په مهاجرينو وزارت کې د موسساتو همغږي کوونکو رييسانو ګډون درلود.**

**ښاغلي احدي د چين هېواد څخه د ۴۰ ميليونه چيني ينو په ارزښت د لومړۍ جوپې څخه د مننې تر څنګ وويل: چې يادې مرستې مستحقو او اړمنو کسانو ته د لومړنيو اړتياوو پوره کولو په موخه ويشل شوې دي.**

**نوموړي زياته کړه: چې چين هېواد سره يې د مرستو په برخه کې ښه همغږي لرې او په پام کې لري چې د مرستو دويمه محموله کې هم اړمن کسان په نظر کې ونيسي.**

**په پام کې ده، چې په نږدې راتلونکي کې د ۶۰ ميليونه چيني ينو په ارزښت د مرستو دويمه جوپه د ياد وزارت په واک کې ورکړل شي.**

## نشست مشترک وزارت امور مهاجرين با نهاد های همکار بين‌المللی برگزار شد

ويب سايت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



نشست مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان پیرامون انتقال بیجاشده گان به محلات اصلی شان با حضور نماینده های نهاد های همکار بین‌المللی برگزار شد .

دراین نشست نماینده های کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، برنامه اسکان بشری سازمان ملل و اداره هماهنگ کننده کمکهای بشری سازمان ملل متحد حضور داشتند .

مولوی سردارشیرزاد رئیس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی گفت، خواست امارت اسلامی این است که خانواده های بیجاشده را به محلات اصلی شان برگردانیم و به این مشکل نکته‌ای پایان دهیم، فعلا پنج هزار خانواده در شهر کابل آماده انتقال است.

شیرزاد گفت، هر همکاری مطابق به اصول و پالیسی امارت اسلامی باشد با شما همکار هستیم تا این پروسه به زودی آغاز گردد.

آقای ونست مسوول هماهنگی کمپ ها گفت، در هماهنگی با موسسات همکار برعملکرد مشترک کار می‌کنیم تا به یک نتیجه مثبت برسیم.

وی افزود، با هماهنگی وزارت و کمیته راه حل دائمی کار می‌کنیم تا مشکلات بیجاشده ها مرفوع گردد .

ونست گفت، برای مشخص ساختن مشکلات به ولایات سفر صورت گیرد و پنج هزار خانواده که آماده انتقال میباشد باید به دو گروپ تقسیم گردد و بر انتقال آنان گام های عملی برداشته شود

## وزارت مهاجران پیشنهاد برگزاری نشست سه‌جانبه را به اسلام‌آباد داد

طلوع نیوز

**رسانه‌های پاکستانی به نقل از یک مقام سازمان ملل گزارش داده‌اند که دولت پاکستان در حال بررسی درخواست ا.ا برای برگزاری این نشست است .**



**وزارت مهاجران و عودت کنندگان پیشنهاد برگزاری نشست سه‌جانبه با سازمان ملل متحد و دولت پاکستان را به هدف رسیدگی به چالش‌های مهاجران افغان، به اسلام‌آباد سپرده است.**

**عبدالمطلب حقانی سخن‌گوی این وزارت گفته است که این نشست بر حل چالش‌های مهاجران افغان در پاکستان متمرکز خواهد بود.**

**آقای حقانی درباره این پیشنهاد گفته است: «ما از پاکستان هم خواسته‌ایم تا ما با آن‌ها و یوان‌اچ‌سی‌آر یک نشست سه جانبه داشته باشیم. در این نشست درباره چالش‌های مهاجران افغان در پاکستان، راه‌حل‌ها و فراهم کردن زمینه برای افغان‌هایی که قصد برگشت داوطلبانه به کشور دارند، صحبت خواهد شد«.**

**در همین حال برخی رسانه‌های پاکستانی به نقل از یک مقام سازمان ملل متحد گزارش داده‌اند که دولت پاکستان در حال بررسی درخواست امارت اسلامی برای برگزاری این نشست است.**

آصفه ستانکزی فعال عرصه حقوق مهاجران به طلوع‌نیوز گفت: «برگزاری چنین نشست‌ها در صورتی می‌تواند موثر باشد که چشم‌انداز بلندمدت و برنامه ستراتیژیک در نظر گرفته شود و از طرف دیگر برای حضور این مهاجران سیستم پذیرش پناهندگی نیز ایجاد گردد».

با این همه شماری از مهاجران افغان در پاکستان می‌گویند که با چالش‌های گوناگون از جمله اخراج و بی‌توجهی سازمان‌های بین‌المللی روبه‌رو اند .آنان خواهان رسیدگی به این چالش‌ها شده‌اند.

عتیق‌الله منصور مهاجر افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفته است: «مشکلات مهاجرین عبارتند از خوف و هراس اخراج اجباری از سوی حکومت پاکستان، عدم توجه ادارات بین‌المللی و کشورهای مهاجرپذیر در پرونده‌های پناهدگی شان و مشکلات ویزا است».

پیش از این نماینده دایمی پاکستان در سازمان ملل متحد گفته بود که امیدوار است یک اعشاریه پنج میلیون مهاجر ثبت شده افغان به‌زودی با پشتیبانی مالی ملل متحد به کشورشان برگشت داده شوند.

## برېتانیا: سازمانونه له حکومت څخه غواړي هوټلونو کې د کډوالو د امنیت د تامین لپاره ببړني تدابیر ونیسي

مهاجرنیوز






Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

برېټانیا کې لسګونو سازمانونو کورنیو چارو وزارت ته د یو لیک په استولو سره ویلي دي چې هوټلونو کې دې د پناه غوښتونکو د امنیت د تامین لپاره لازم او بېړني تدابیر ونیسي .دغو سازمانونو د کډوالو پر وړاندې د ښي اړخو افراطي ډلو د ګواښونو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

د برېټانوي ګارډین ورځپاڼې د خبر له مخې، دغه لیک چې د برېټانیا کورنیو چارو وزیرې یوېټ کوپر ته استول شوی د پولو په اړه خبرې اترې

سازمان له خوا چمتو شوی او ۵۴ ملي، سیمه ایزو او ځایي ټولنو لکه کېر ۴ کالي او اسایلم متزز لاسلیک کړی دی.

په لیک کې راغلي دي چې له هوټلونو څخه د کډوالو د ایستلو پروټوکلونه دې د هوټلونو له پرسونل سره شریک شي او یادو استوګنځیو کې دې د پناه غوښتونکو د ځای پر ځای کولو پالیسی ته د پای ټکی کېښودل شي .

ورځپاڼې د پولو په اړه خبرې اترې سازمان د مشرې کولېټ باتن تورنر له قوله لیکلي دي: «موږ په دې اړه اندېښمن یو چې پناه غوښتونکي په لومړي سر کې هوټلونو کې ځای پر ځای کېږي... د ښي اړخي ډلو افراطي له خوا پر هوټلونو بریدونو هغه کسان له روحي لحاظه اغېزمن کړي چې هوټلونو کې مېشت دي. [دغه بریدونه] ښيي چې هوټلونه د [کډوالو د ساتلو لپاره] مناسب نه دي«.

هغې زیاته کړې ده: «موږ په خپل لیک کې پر کورنیو چارو وزارت غږ کوو چې له هوټلونو څخه د پناه غوښتونکو د ایستلو په تړاو مشخص طرزالعملونه جوړ کړي.» د نوموړې په وینا، هوټلونو باید په اوږدمهال کې وتړل شي او کډوالو ته په هغو اجتماعاتو کې ځای ورکړل شي چې دوی وتوانېږي یکې خپل نوی ژوند پیل کړي.

همدارنګه د کېر ۴ کالي اجرایي مشر ستیو سمیت د وروستیو بلواګانو او تاوتریخجنو پېښو په اړه د تحقیقاتو غوښتونکی شوی دی. نوموړي ویلي دي چې حکومت باید خبر وای چې د ښي اړخو افراطي ډلو پلان درلود چې پر هوټلونو بریدونه وکړي.

دا هم ولولئ
<u>برېټانیا: هغه دوه کسان په بند محکوم شوي چې فېسبوک کې یې خلک د پناه غوښتونکو ضد لاریون ته هڅولي وو</u>

»فکر مو وکړ چې دوی به موږ ووژني«

د روانې میاشتې په پیل کې د ښي اړخو افراطي ډلو د برېټانیا په بېلابېلو ښارونو کې د تاوتریخجنو مظاهرو په ترڅ کې د پناه غوښتونکو هوټلونه په نښه کړل. روترهام کې هالیډي ان اکسپرس یو له هغو هوټلونو و چې سخت برید پرې وشو او ځینې برخې یې ویجاړې شوې.

د کډوالو پر دغه استوګنځي برید څکه پوښتنې راپورته کړې چې د ښي اړخو افراطي ډلو د ۲۰۲۳ د فبرورۍ په ۱۸مه هم یاد هوټل په نښه کړی و. همدارنګه له وروستیو بلواګانو مخکې د ښي اړخو افراطي ډلو د ټولنیزو رسنیو له لارې اعلان کړی و چې په پام کې لري چې د روترهام هوټل په پارکینګ کې لاریون وکړي .

ګارډین لیکلي دي چې د هوټل کارکوونکي چې د میرس په نوم قراردادي شرکت له خوا مدیرت کېږي د لاریون له پیل څخه څو ساعته مخکې له هوټله ایستل شوي وو. د میرس یو ویاند بیا ویلي پولیسو پرېکړه وکړه چې یوازې څو کارکوونکي هوټل کې پاتې شي او پاتې نور دې له هوټله ووځي. د نوموړي په وینا، پولیسو غوښتل چې د هغو کسانو شمېر راکم کړي چې ساتنې ته اړتیا لري.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په دغه هوټل کې هغه کډوال هم حاضر وو چې د بالغو کسانو په توګه نه وو پېژندل شوي. همداراز یو شمېر پناه غوښتونکو معلولیتونه درلودل او یا له رواني ستونزې سره مخ وو. د ګارډین په حواله، د دغو کډوالو د ایستلو لپاره هېڅ راز تګلاره موجوده نه وه.

یوه سوډاني کډوال هوټل کې وضعیت «ډاروونکی» بللی دی. همدارنګه یو افغان پناه غوښتونکي ویلي دي: «موږ ته ویل شوي وو چې خپلو کوټو کې پاتې شو او له کړکیو څخه لرې واوسو، خو موږ د کوټو په غټه هنداره کې ولیدل چې له هوټله بهر څه روان دي... د بنې اړخو افراطي ډلو پولیس وهل ډبول، فکر مو وکړ چې دوی به موږ ووژني».

## هنګري د ناقانونه کډوالو په اړه د اروپایي ټولنې له غوښتنو سره مخالف کړی

مهاجرنیوز




هنګري وايي هغه غوښتنې ورته د منلو وړ نه دي چې له مخې یي اروپایي ټولنه دوې مجبوره کړي چې د ناقانونه کډوالو پر وړاندې دې خپلې دروازې پرانیزي او داسې طرزالعملونه اجرا کړي چې ناقانونه کډوالو ته د هنګري له لارې اروپا ته د داخلیدو اجازه ورکړي .

د <u>ریمکس ویب پاڼې</u> د خبر له مخې، هنګري ګواښ کړی چې که اروپايي کمیسیون د دې هڅه وکړي چې د »خلاصې پولې اجنډا«  پر دې ومني، نو دوی به بروکسل ته ناقانونه کډوال واستوي. بل پلو بیا اروپایي ټولنې ویلي که هنګري د کډوالو د منلو په اړه له خپلې سهمیې څخه انکار وکړي نو جریمه به یې کړي.

هنګري او د ختیځې اروپا هیوادونه چې د کډوالو لپاره د ترانیزیت یوه لاره بلل کیږي، په ناقانونه ډول د ورتلونکو کډوالو په اړه له اروپايي ټولنې سره په مخالفت کې دی. اروپايي ټولنې څو ځلې هنګري له دې امله جریمه کړی چې د کډوالی په برخه کې د اروپايي ټولنې له قوانینو څخه یې سرغړونه کړې. خو هنګري بیا دغه تورونه رد کړي .

د هنګري د کورنیو چارو وزارت د پارلماني ریاست سکرتر بنس ریتواري د یکشنبې په ورځ د اګست په ۲۵ په یوه راډیویي پروګرام کې وویل چې د کډوالی په اړه د هغه پلان له مخې چې په دوبي کې تصویب شوی، هنګري به د غیرمنظم کډوالو له ځلورمې برخې څخه ډیر غوښتنلیکونو ته رسیدنه وکړي .نوموړی وایي چې دا د عادي شمیر څخه ډیر زیات دی.

د کورنیو چارو وزارت دغه چارواکی هنګري ته د کډوالو د قضیو ډیریدو ته په اشارې سره وویل چې تر ۲۰۲۸ کاله پورې به د غوښتنلیکونو شمیر ځلور برابره ډیر شي.

نوموړی د کډوالو د غوښتنلیکو د ډیریدو په اړه وایي: « له ۲۰۱۵ کال راهیسې مونږ ورته پالیسي تعقیبوو.مونږ د هنګري او اروپايي ټولنې د قوانینو پیروي کوو چې دا روښانه کوي چې سرحدونه باید خوندي شي او او اسنادو پرته په ناقانونه توګه له پولې تیریدل امکان نه لري«.

د هنګري د کورنیو چارو وزارت دغه چارواکي دا هم وویل چې د پولې د ساتلو لپاره د هنګري لخوا د دوه میلیونه یورو لګښت د اروپايي ټولنې لخوا نه دی ورکړل شوی. نوموړی د اروپا د عدالت محکمې لخوا د هنګري جریمه کیدل هم غیرعادلانه و بلل.

دا هم ولولئ
<u>پناه غوښتنه: د اروپا د عدالت محکمې هنګري د اروپايي ټولنې له قوانینو په سرغړونه تورنه کړه</u>

هغه وایي چې هنګري به د غو تورونو ته تسلیم نه شي او د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د خپلو ادعاوو د ثابتولو لپاره به لازم ګامونه پورته کړي.

د تیر کال په جون میاشت کې د اروپا د عدالت محکمې هنګري له دې امله جریمه کړی و چې د اروپایي ټولنې له قوانینو څخه یې سرغړونه کړې. محکمې په خپل پریکړه لیک کې ویلي دي چې د هنګري حکومت په ۲۰۲۰ کې د کورونا ویروس وبا پر مهال کډوال دې ته اړ کړي چې په صربیا او اوکراین کې د دغه هېواد په سفارتونو کې د پناه غوښتنه وکړي.